د افغانستان اسلامي امارت

د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت

د مخابراتي خدمتونو د تنظیم اداره (اترا)

# ملت ته، د دولت د حساب ورکولو برنامه

د مخابراتي خدمتونو د تنظیم ادارې (اترا)
د کړنو او لاسته راوړنو راپور

۱۴۰۲ هجري لمریز کال

**مقدمه**

د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ سکټور په هیواد کې یو له مهمو او بنسټیزو سکتورونو څخه دی چې د نورو سکتورونو په وده او پرمختګ کې اغیزمن رول لوبوي. د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت د قوانینو او مقرراتو، طرزالعملونو، لایحو، ترونونو، پالیسیو او د عمومي خدمتونو د ستراتیژیو د طرحو په برخه کې یو له مهمو او بنسټیزو ارګانونو څخه دی.

د افغانستان د مخابراتي خدمتونو د تنظیم اداره (اترا) په هیواد کې د مخابراتي خدمتونو د چارو د تنظیم مسؤلیت پر غاړه لري. د هیواد په کچه د مخابراتي خدمتونو د ودې او پرمختیا، د مخابراتي مارکیټ د تنظیم او څارنې، د آپریټرانو، ګټه اخیستونکو او نورو اړونده ادارو تر منځ د مناسباتو د تامینولو مسؤلیت لري.

د اسلامي امارت د قیام څخه راپدیخوا د اترا ادارې د عمده فعالیتونو او لاسته راوړنو ګزارش په لاندې ډول دی:

**مشترکین:**

- د اسلامي امارت تر راتګ مخکې د مخابراتي مارکیټ ټول فعال مشترکین ۲۲.۴ میلیون وو، اوس دا شمیره تر ۲۳.۱ میلیون پورې رسیدلې ده.
- د اسلامي امارت تر راتګ مخکې د ۳ جي مشترکین ۶.۲ میلیون وو اوس ۶.۴ میلیون ته رسیدلي دي.
- د اسلامي امارت تر راتګ مخکې د ۴ جي مشترکین ۱.۶ میلیون وو اوس ۳.۵ میلیون ته رسیدلي دي.
- د اسلامي امارت تر راتګ مخکې د موبایل انترني خدماتو مشترکینو ارقام ۱۱.۲ میلیون وو اوس مهال ۱۲ میلیون ته رسیدلې دي.
- په مقایسوي توګه د صوتي خدماتو په پرتله د انترنتي خدماتو کاریدونکي مشترکین د ډیریدو په لوري روان دي.

**پانګونه:**

- د اسلامي امارت له راتګ څخه تر اوسه په مخابراتي مارکیټ کې شاوخوا ۸۸ میلیون امریکایي ډالر چې د ۷.۳ میلیارد افغانیو معادل کیږي پانګه اچوونه شوې ده.
- په مخابراتي مارکیټ کې نوي پانګونه ترڅخوا د مخابراتي مارکیټ د کیفیت په سمیدواو د مارکیټ د پیاوړتیا سبب ګرځیدلې ده.

## عواید:

د اسلامي امارت له راتګ څخه وروسته د ۵ مخابراتي شرکتونو د مخابراتي خدمتونو د عرضه کولو له لارې ۸۶۹ میلیون امریکایي ډالر چې معادل د ۷۸ میلیارد افغانیو کیږي ناخالص عواید ترلاسه کړي دي.

## د مخابراتي خدمتونو د تعرفو نرخونه:

د اسلامي امارت تر راتګ مخکې په هیواد کې د مخابراتي خدمتونو د تعرفو نرخونه ګران وو، د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت په مشرۍ اترا اداره د مخابراتي مارکیټ تر هر اړخیز تحلیل وروسته په دې وتوانیده چې مخابراتي شرکتونو ته د تعرفو د نرخونو لپاره سقف وټاکي. چې د یادې ارزونې پر بنسټ په لومړي ځل افغانستان کې مخابراتي شرکتونو ته د انټرنټ او غږیزو اړیکو د عادی بیو لپاره د ټاکل شویو تعرفو سقف وټاکل شو او د هرې شبکې د پیرودونکو ترمنځ د غږیزو اړیکو حد اکثر قیمت فی دقیقه په ۱.۸۵ افغانۍ وټاکل شو، چې د اسلامي امارت له راتګ څخه مخکې د مخابراتي شرکتونو حد اکثر قیمتونه د دقیقې پر سر له ۲.۵ څخه نیولې تر ۳.۵ افغانۍ وضع کیدې.

همدارز له یوې مخابراتي شبکې څخه بلې مخابراتي شبکې ته د اړیکو د عادي بیو لپاره د ټاکل شویو تعرفو سقف فی دقیقه په ۲.۲ افغانۍ حد اکثر وټاکل شو، چې د اسلامي امارت له راتګ څخه مخکې د مخابراتي شرکتونو حد اکثر قیمتونه د دقیقې پر سر ۴ افغانۍ بیه وضع کیدې .

په همدې ترتیب مخابراتي شرکتونه مکلف کړای شول چې د غږیزو اړیکو لګښت د ۶۰ ثانیو پر ځای د ۳۰ ثانیو په اساس وضع کړي.

د انټرنټي خدمتونو د بیو په برخه کې هم ډیر زیات کمښت راغلی دی، په اکثره انټرنیټي بستو کې له ۳۰٪ څخه تر ۶۰ فیصدو پورې کموالی راغلی. اوسمهال ټولو مخابراتي شبکو ته د یوې جي بي میاشتنۍ کڅوړې حد اکثر قیمت ۱۱۰ افغانۍ ټاکل شوی دی، چې ځینې شبکې یې له دې هم په ټیټ قیمت پلوري، په داسې حال کې چې د اسلامی امارت له واکمنیدو مخکې د یوې جي بي انټرنټي کڅوړې قیمت له ۲۵۰ نه تر ۳۰۰ افغانیو پورې رسېدو.

## کاري بوختیا:

د هیواد د مخابراتي مارکیټ له لارې هیوادوالو ته په لاندې ډول په مستقیم او غیر مستقیم ډول کاري بوختیا برابره شوې ده:

- په مستقیم ډول ۱۶۰۰۰ کسان
- په غیر مستقیم ډول ۱۶۸۰۰۰ کسان
- ټوله برابره شوې کاري بوختیا (مستقیم او غیر مستقیم) ۱۸۴۰۰۰ کسان دي.

## د نوري فایبر کیبل خدمات:

- د اسلامي امارت تر راتګ د مخه په هیواد کې غځول شوی نوري فایبر کیبل د شبکې اوږدوالی ۷۶۵۳ کیلومتره وو.
- اوس مهال نوموړې اندازه ۸۰۰۶ کیلومتر ته رسیدلی دی. په دې موده کې تر ۳۳۰ کیلومتر نوي د نوري فایبر شبکو کیبل غځول شوی دي.
- د شرکتونو له لوري د نوري فایبر د نویو کیبلونو د کیندنو لپاره د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجی وزارت له لوري له اړونده ارګانونو سره په هماهنګی پالیسی ترتیب شوې ده چې تر عملي کیدو وروسته به دا چارې نورې هم وسعت پیدا کړي.
- د اسلامي امارت تر راتګ وروسته د نوري فایبر کیبل په برخه کې ۸.۹ میلیون امریکایي ډالر پانګه اچوونه شوې ده چې په دې موده کې یې ۴.۸ میلیون امریکایي ډالر ناخالص عواید ترلاسه کړي دي.

## د جوازونو صدور:

- د اسلامي امارت تر راتګ وروسته تر دې وخته ۴ د نوري فایبر خدماتو او ۲ د انترنتي خدماتو جوازونه او ۳۶ نور مختلف النوع (TTSP, VAS, SP) جوازلیکونه نوي صادرشوي دي.
- د اا‌ا د امیرالمومنین حفظه الله د حکم پر اساس د مخابراتي خدمتونو د تنظیم قانون د تعدیل مسوده ترتیب شوې او د اا‌ا د رهبرۍ مقام ته وړاندې شوې ده.
- د فریکوینسی د مقررې تعدیلي مسوده ترتیب شوې ده.
- د سیم کارتونو د ثبت او راجستریشن لپاره او همدارنګه د ځانګړو شمیرو د توزیع لپاره طرزالعملونه جوړ شوي دي او د ثبت او راجستریشن پروسه ښه تنظیم شوې ده.
- په مخابراتي شرکتونو کې د خارجي اتباعو د استخدام طرز العمل او د مخابراتي خدمتونو د جوازونو او جوازنامو د واګذارۍ طرزالعملونه جوړ شوي دي.

## د طیف منجمنټ په برخه کې:

- د موبایل د برودباند یا وسیع باند مخابراتي خدماتو د وړاندې کولو لپاره د فریکونسی مزایدې ترسره کولو اړونده پالیسي نهایي شوې ده او ډیر ژر به د مزایدې له لارې مخابراتي شرکتونو ته د باکیفیته خدمتونو وړاندې کولو په موخه فریکونسي ورکړل شي.
- په حدود د ۴۲۲ میلیون افغانۍ، چې د مخابراتي شرکتونو او اړونده نورو اداراتو د فریکونسي د فیس د قرضدارۍ یوه د پام وړ برخه تشکیلوي، د اسلامي امارت په راتګ سره د دولت خزانې ته انتقال شوي دي.
- مخابراتي شرکتونو ته د E-Band د فریکونسي د ویش منظوري ترسره شوې ده چې د نوموړې فریکونسیو توزیع به د مخابراتي خدمتونو په کیفیت ډیر مثبت اغیز وکړي.
- په (1411) شمېر نوي BTSs نصب او جوازلیکونه یې صادر شوي دي.

- په (166) شمېر د Backbone او ISP نوي ټاورونه نصب شوي او جوازليکونه يې صادرشوي دي.
- د واکي ټاکي مخابرو (72) د فريکونسی جوازليکونه صادر شوي دي
- په (216) شمېر د سټلايټ ټيلفونونو ته جوازليکونه ويشل شوي دي
- د (22) په شمېر د FM Broadcasting راډيو ګانې جوړې او ورته د فريکونسيو جوازليکونه صادر شوي دي.
- د 1 تلويزيون ترانسمټر جوړ او ورته د فريکونسي توزيع صورت نيولی دی.
- د (33) په شمېر کې د انټرنټي خدمتونو د پوښښ لپاره د P-to-M سټېشنونه جوړ او ورته ته د فريکونسيو جوازنامې صادرې شوې دي.

## د نظارت په برخه کې:

- د لومړي ځل لپاره په ټول هيواد کې په ۲۴ ساعته ډول مخابراتي خدمتونه وړاندې کېږي.
- د هغو سيم کارتونو د خرڅلاؤ چې پخوا په غير قانوني ډول د سړکونو پر سر خرڅيدل اوس يې مخه نيول شوې ده.
- د لومړي ځل لپاره د مخابراتي خدمتونو کيفيت معلومولو لپاره په ټول هيواد کې د ډرايو ټيسټ ګرځنده دستګاوې فعاليت کوي او د شبکو د مخابراتي خدمتونو نظارت کول اجرا شوي.
- د کرديټ د غلا اړوند (293) قضې چې (2345885) افغانی د پېرېدوونکو کرېډيټ کارټونه غلا شوي دي د تيليفوني اړيکو له لارې د متضررينو له لوري اتړا اداري سره شريک شوي دي چې د مخابراتي شرکتونو په همکاری (1068030) افغانی کرډيټ کارټونه متضررو پيرېدوونکو ته بيرته ليږل شويدي همدارنګه (138) د مختلفو اشخاصو د کرډيټ د غلاو اړوند قضې کورنيو چارو وزارت ته ليږل شوي ترڅو جرمي او کشفي ځيړنه يې ترسره شي.
- د لا اسانتيا په خاطر شکاياتو ته د رسيدني او ثبت په موخه په انلاين بڼه د شکاياتو ځيړنه او په انلاين بڼه د شکاياتو د اوريدو پورټل فعال او په لاره اچول شوی دی.
- د هيواد په ټولو ولايتونو کې د مخابراتی سايټونو د سراسري لاسرسي د پروژو د نورمال فعاليت څخه دوامداره نظارت.
- په مختلفو ولايتونو کې د 835 مخابراتي ټاورونو او 123 انټرنيټي ټاورونو د جوړيدو څخه نظارت شوی دی.
- د 63 راډيويي چينلونو د نشراتو او فعاليت څخه ځيړنه
- په ټول هيواد کې د فريکونسي د اخلال 600 څخه د زياتو مواردو کنټرول ترسره شوی او منابع يې د پيژندلو وروسته قطع او خنثی شوي.
- په 1401 کال کې د 648 پايې ريپيټرونه (د اخلال د فريکونسي سرچينې) د قانون څخه د ملاتړ د ارګانونو په همکاری راټول شوي دي.

- د واکي ټاکي مخابرو 200 پايې چې د فريکونسي د جواز نه درلودونکي وې، راټول شوي دي د اترا ادارې د پريکړې وروسته يو شمېر يې چې د فريکونسي جواز يې ترلاسه کړ بيرته ورته تسليم شول.
- د مبايل مخابراتی خدمتونو د کيفيت او اندازه ګيرئ د طرزالعمل تعديل شوی دی.
- د اترا ادارې د شپږ زونونو لپاره د مخابراتي خدمتونو د کيفيت څېړنې د وسايلو خريداري
- د ګاونډيو هيوادونو د شبکو د فريکونسئ د نفوذ او اخلال څخه د ساتنې په موخه د سرحدي ساحاتو څېړنه او د سګنالونو د محدودولو په خاطر له هيوادونو سره د اسنادو او شواهدو شريکول.

**د پلان او پراختيا په برخه کې:**

- تر دې دمه د ټي ډي ايف بودجې څخه د هېواد په لرو پرتو سيمو کې چې له مخابراتي خدمتونو بې برخې دي او يا هم هلته چې د خدمتونو کچه په کې ټيټه ده، ۸۳۶ سايټونه جوړ او فعال شوي، چې له امله يې شاوخوا ۸ ميليونه هېوادوال له مخابراتي او انټرنټي خدمتونو برخمن شوي دي.
- د مخابراتو د پراختيايي پروژو د پلي کيدو پر وړاندې يوازينۍ ستونزه امنيتي ننګونې وې، چې له نېکه مرغه د اسلامي امارت له بريا وروسته زموږ په ګران هېواد کې ډاډمن امنيت تامين شوی، چې د مخابراتي پراختيايي پروژو د بريالیتوب لپاره يې زمينه برابره کړې ده.
- د مخابراتي خدمتونو د تنظيم ادارې د ۱۴۰۱ کال ( ۲۰۲۲ م ) مخابراتي خدمتونو ته د سراسري لاسرسي لسمه پروژه کې د مخابراتو او انټرنيټي خدمتونو څخه محرومو سيمو د پوښښ لپاره د هيواد د ۳۸۸ ولسواليو په لرو پرتو سيمو کې ۴۵۰ سايټونه په په پام کې نيول شوي دي، چې د دې پروژې په لومړی مرحله کې په ۵ ولايتونو (ارزګان، ذابل،نورستان،بدخشان،کابل، غزنی، زابل-قندهار، کابل-ننګرهار لوی لار، کنر-نورستان) کې د ۳۰ مخابراتي سايټونو لپاره د مخابراتي شرکتونو سره د 365 ميليونو افغانيو په ارزښت قراردادونه لاسليک شول. د دغو قراردادونو له مخې به افغان بيسيم او امټي‌ان مخابراتي شرکتونه د کندهار، نورستان، بدخشان، ارزګان، زابل، کنړ، ننګرهار او کابل ولايتونو کې د 33 سايټونو د جوړېدو له لارې په هغو لرې پرتو سيمو کې چې خلک مخابراتي خدمتونو ته لاسرسی نه لري؛ مخابراتي خدمتونه وړاندې کړي.
- د افغان بېسيم، افغان ټيليکام او روشن شرکتونو له خوا له ۱۴۰۱ کال راهيسې تر اوسه د هېواد په بېلابېلو برخو کې د TDF له بوديجې څخه شاوخوا ۳۳ مخابراتي سايټونه جوړ او فعال شوي دي
- د مخابراتي خدمتونو د کيفيت د کچې د اندازه ګيرئ د وسايلو د برابرولو پروژه د 48,104,061 افغانيو په ارزښت بشپړه شوې ده.
- په کندهار، ننګرهار او ميدان وردګو ولايتونو کې د ۳ مخابراتي سايټونو قرارداد له افغان بېسيم شرکت سره شوی او ډېر ژر به يې د تطبيق چارې پيل شي.
- د اسلامي امارت له راتګ څخه وروسته د ۵،۴ ميليون امريکايي ډالرو په ارزښت د اترا ادارې د TDF له بوديجې څخه ۴۵ نوي مخابراتي سايټونه جوړ شوي او د مخابراتي شرکتونو په واک کې ورکړل شوي دي. ياد سايټونه به په لرو پرتو سيمو کې د مخابراتي خدمتونو کچې لوړتيا او په کيفيت کې مهم رول ولوبوي.

## د تحلیل او رقابت ریاست

- بېلابېلو مراجعو ته د ځانګړي VAS خدمتونو وړاندې کولو لپاره (۷۵) شارټ کوډونه تخصیص او توزیع شوي دي.
- د نویو مخابراتي وسیلو او تکنالوژیو د راوړلو ۸۰ دولونو ته د غوښتونکو له غوښتنې سره سم د Approval Type (۸۰) سندونه چمتو شوي دي.
- د ګرځنده تلیفوني خدمتونو وړاندې کوونکو، د انټر نټي خدمتونو وړاندې کوونکو شرکتونو(ISP) (T.T.S.P ), (LFSP) او (SP) ، د ملي او سیمه ییزو تلویزیونونو او راډیوګانو د فعالیت لپاره د ۱۳۰۰ په تعداد کې د نویو وارد شویو په بندرونو او هوایي ډګرونو کې د وسایلو او تجهیزاتو تشریح شوې ده.
- د احصایوي معلوماتو د مدیریت لپاره د DHIS2 پربنسټ ولاړ یو سیستم د جوړولو کار دوام لري.

## مخابراتي سایټونه:

- د اسلامي امارت تر راتګ مخکې په هیواد کې ۷۴۵۵ مخابراتي سایټونه وو.
- اوس په هیواد کې ټول ۷۸۲۵ مخابراتي سایټونه شتون لري چې د اسلامي امارت تر راتګ وروسته د مخابراتي شرکتونو له لوري ۳۷۰ د مخابراتي پوښښ نوي سایټونه جوړ شوي دي.
- د اسلامي امارت تر راتګ وروسته په حدود د ۱۰۰۰ مخابراتي سایټونه چې د تهدیداتو له کبله به یا دایم بند وو او یا به یې په وقفه یې ډول خدمات وړاندې کول، اوس په بشپړه توګه فعال شوي دي او په ۲۴ ساعته ډول هیوادوالو ته مخابراتي خدمات وړاندې کوي.